# وطنه

ما غوښتل وطن چي ښې درځنی جوړکړم
ستا دخوارو وږي نس په خواړه موړ کړم
ستا د خلکو په ټپونو ملهم کیږدم
په اوبو سره بل شوی لمبی سوړ کړم
وران ښارونه او کلي دی سمسو ر کړم
وران جونګړی دی ودان پوړ په پوړ کړم
رڼا ورځ ستا پرغلیم توره تیا ره کړم
ټول قوت یی ستا دخلک په مټ پرور کړم
افسوس دا چی مي وړور د ښمن راوخوت
د اغیار په لمسون دړی وړی وړ کړم
امید ونه می تر سر نشو وطنه
«مل» شو پا تي هم د خلکو د پیغو ر کړم

***

**پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»**

جرمنی ۲۰۱۶-۹-۱۷